یونس نگاه

۱۷ اپریل ۲۰۲۳



**یونس نگاه**

# د هویت نرمې او له یوبل سره تړلي حاشیې

هغه کسان چې د قومونو، توکمونو او د ټولنو د جوړولو په اړه خبرې کوي، پر دې باور دي چې وینه د هویتي کتلو د جوړښت یوازینی لامل نه ده، بلکې کلتور (ژبه، جامې، موسیقي، ادب، دودونه، خواړه او (.... اقتصادي-سیاسي ګټې او جغرافیه انساني ډلو ته یو ګډ هویت ورکوي. دا هویتونه د (قبیلې، قوم او ملیت) په درجو جوړېږي او د ټولنې د پرمختګ او ترقۍ د کچې ته په پام سره هر یو د ټولنیز ودې په پړاو کې رابرسېره کېږي.

له کورنۍ او پلار ګنۍ قبیلو ته او له قبایلو قومونو او بیا ملت ته د ټولنې په لوړتیا او له هغه ځایه د لویو کلتوري سیمه ییزو او نړیوالو حوزو په رامنځته کېدو خنډونه شته. له بیخ بنایي او اقتصادي خنډونو که تېر شو، سیستماتیک تعصب او انحصار د ټولنو د ادغام او د لا پرمختګ پړاوونو ته د رسېدو پر وړاندې مهم خنډونه دي. له پولې د اخوا او سیمه ییز لوی کلتوري هویت په تړاو به خبرې پرېږدو. زموږ د هیواد د وروسته پاتې والي له امله د اوس لپاره د ګډ ملي هویت رامنځته کول یو ډېر مترقي ارمان دی او د ځینو هیوادوالو له نظره له لاسرسي لېرې او ایډیال برېښي. موږ حق لرو چې افسوس وکړو چې په داسې ټولنیز ځای کې بند پاتې یو. په داسې پېر کې چې د نړۍ په ځینو برخو کې خلک د پولو له بنده تېر شوي او لویې بشري اندیښنې لري، د ګډو انساني خطرونو او فرصتونو په تړاو فکر کوي، د مصنوعي ځیرتیا راتلونکي او له هغې سره د انسانانو د اړیکو، په ټوله نړۍ کې د شتمنۍ د وېش د څرنګوالي، د اقلیم د ناورین او د ځمکې او له ځمکې د اخوا احتمالي موجوداتو په تړاو اندېښمن دي. موږ لاهم د کوچنیو کلتوري هویتونو او ځایي پولو په بیا تعریفولو بوخت یو. خو له دې شاته پاتې والي انکار او روښانفکرانه تجاهل ته مخه کول هم کارنده نه دي. موږ باید پر اوسني وضعیت اعتراف وکړو او ترې نه در تېرېدو لپاره خبرې او هڅې وکړو.

موږ پر یوه ګډ ملي هویت په سلا کېدو کې ډېرې ستونزې لرو. د اقتصادي او کلتوري وروسته پاتې والي او له کلیوالي ذهنیته په تېرېدو کې زموږ د ناتوانی په ګډون ډېر عوامل د دغو ستونزو رامنځته کوونکي دي. په دې منځ کې د هغو کسانو دریځ چې ملي هویت یې انحصار کړی دی او د هغه لپاره سلیقه یې او قومي ادانه معرفي کوي او له نورو

غواړي چې ځان ورته برابر او پکې ځای کړي، لوی خنډ دی او ډېرې ترینګلتیاوې رامنځته کوي. هغوی ته لرې چې «نور» باید خبر وي چې «افغانیت» یوه درجه لرونکې ښکارنده، او موږ اصل او کم اصل افغان لرو. د ملي هویت دغه له تعصبه ډک تعریف غیرګون رامنځته کوي او هغه خلک چې فزیک او کلتور یې له دغې انحصاري او محدودې اډانې سره سم نه وي، شړل کیږي او په غبرګون لاس پورې کوي. له هغې وروسته غبرګونونه دوام مومي، معرفي شوې اډانه تر پښو لاندې کیږي او هغه نیمګړي بنسټونه چې د ګډ ملي هویت د جوړولو لپاره جوړ شوې، زیانمنیږي.

دا ستونزه یوازې په ملي کچه کې نه ده، بلکې هغه سیاسي مشران، قومي سوداګر او تحصیل کړي کسان چې فکر کوي، د افغانستان په راتلونکې کې باید قومیت د واک او شتمنی د ویش اصلي معیار وي، د قومونو ترمنځ او د هر قوم په دننه کې هم د پولو په رامنځته کولو او په کټګوریو باندې د خلکو په وېشلو کې له ګڼو ستونزو سره مخ دي او رسنی د دوی له کمپاینونو او اعلاناتو ډکې دي. د بېلګې په توګه په وروستیو ورځو کې په ټولنیزو رسنیو کې د ملی یووالی د هویت پر سر دوه بحثونه روان وو او د مخالفینو او پلویانو ترمنځ یې ډېرې خبرې تبادله شوې. لومړی بحث د هزاره ټولنې په منځ کې و، چې ځینو کسانو پکې هڅه وکړه، چې ووایي، یوه ډله خلک (سیدان) څنګه له پېړیو راهیسې په هزاره سیمو کې اوسیږي او په هزاره ګړدود خبرې کوي، جامې، خواړه، مذهب، موسیقي او فولکلور یې د هزاره وګړو دي، خو ایا هزاره دي او کنه. دویم بحث د هېوادوالو د یوې ډلې په اړه و، چې په تاجک میشتو سیمو کې ژوند کوي، خو د تاجک او هزاره هویت په اړه یې د نظر اختلاف دی.

هزاره خلک د جعفري شیعه، اسماعیلیه شیعه او سنیانو په دریو مذهبي کتلو کې ژوند کوي. د دغو کسانو یوه ډله په هغو سیمو کې ژوند کوي چې اکثریت اوسېدونکې یې تاجکان دي. ځیني یې د تاجکانو تذکرې لري، خو داسې ښکاري چې لا هم په شک کې دي چې آیا تاجک دي که هزاره. ځینی کسان پوښتي، په داسې حال کې چې قزلباشان، بیاتان، کردان، ازبکان، ترکان او ډېر پښتانه په اسانی سره په تاجک ټولنه کې مدغم شوي، ولې په تاجک مېشتو سیمو کې سني هزاره، ان که یې د تاجکانو تذکرې هم اخیستې دي، تر اوسه نه دي مدغم شوي؟

په تېرو وختونو کې د هزاره خلکو یوې برخې هڅه کړې چې د کلتوري مشترکاتو او دغه راز د هغو تعصبونو او سیاسي او کلتوري محدودیتونو د کړاوونو له امله چې د دوی پر وړاندې موجود وو، د خلاصون لپاره له تاجکانو سره نږدې شي او تر دغه چتر لاندې پناه واخلي. ځیني بریالي شوي، خو په وروستیو څو لسیزو کې لیدل شوي چې ځینو دغو کسانو په تاجک ټولنه کې د دوی د یوځای کېدو پر وړاندې د مقاومت له امله تر پخوا لا جدي په خپل هزاره هویت باندې ټینګار کړی دی. اصولاً، که د کوربه ټولنې لخوا مقاومت نه وای، د خپلوۍ لپاره کافي فرصتونه برابرېدل او د سیمه ییزو اقتصادي او سیاسي ګټو د ترلاسه کولو به برابر فرصتونه موجود وای، احتمالاً تاجک شوي به وو، ځکه لږ تر لږه په هغې دوره کې چې هزاره وګړي په رسمي ډول د واکمنانو له غضب سره مخ وو او اداري، نظامي او ښوونیزو ارګانونو ورسره د پردیو په توګه چلند کاوه، سني هزاره وګړو چې د تاجکانو تر څنګ اوسېدل غوښتل چې تاجکان شي. خو هغه خنډونه چې د دوی د ادغام پر لاره وو، د دوی د هزاره هویت د پایښت لامل شوي دي.

د دوی مخینه په روښانه توګه د تعصب او ځایي تفرقو ویجاړونکې اغیزې په ګوته کوي او ښیي، چې د لوړتیا په لید لوري سره د کلتوري اختلاط او د لویو ټولنیزو هویتونو د رامنځته کېدو لپاره زمینه برابرول ممکن نه دي. د لویو کلتوري او ملي مشترکاتو د ګټو لپاره د سیمه ییزو هویتونو د یو کېدو او ادغام لاره په قومي او تعصبي ذهنیتونو سره نه وهل کیږي.

که موږ کلتوري معيارونه د اصل په توګه په پام کې ونيسو، هزاره وګړي او تاجکان کولای شي د لوی هويت دوه عناصر وي او ورو ورو يې واټن دومره کم شي چې جلا کول يې نور اسانه نه وي. پر دې شخړه چې څوک تاجک او څوک هزاره دی، د ټولني د دردناک شاته پاتې والي ښودنه کوي .انساني هويت له يو بل سره تړلي او انعطاف منونکي حاشيې لري، نو کله چې تاجک شوی پښتون، هزاره ډوله تاجک، ترکمن ډوله ازبک او پښتون شوی پشه يي وينو، بايد حيران نه شو. هغه څوک چې د پيوستون اهميت درک کوي او پوهيږي چې په يو بل کې د قومونو، خلکو او کلتورونو ادغام طبيعي خبره ده، بايد د شاته د ستنېدو لپاره د «قومي پاکونې» د هڅو د زور اخيستو مخه ونيسي.

په هزاره ټولنه کې هم د هويتي اختلافونو ستونزه شته، د بېلګې په توګه، هغه سيدان چې په هزاره ټولنه کې له سلګونو کلونو راهيسې ژوند کوي، په دغه ټوليز هويت کې لږ مدغم شوي دي. ښايي د سيدانو د نه جذب اصلي لامل د هزاره وګړو د سياسي او اقتصادي وضعيت د کچې ټيټوالی او په عين حال کې هغه ځانګړی مذهبي مقام وي، چې سيدانو په دې ټولنه کې لرلی دی. د سيد مقام او په پايله کې يې اقتصادي او معنوي ګټو د هغوی د ادغام مخه نيولې ده، کنه نو هزاره وګړي د نورو توکمونو په څېر د مختلفو قبيلو ټولګه ده چې بېلابېلي توکميزې ريښې لري او د هغوی په منځ کې داسې کورنۍ پيدا کېدای شي، چې د پخوانيو خلکو په منځ کې يې عرب، تاجک، بلوڅ او يا پښتانه وو. البته، په وروستيو لسيزو کې د سواد د کچې په لوړېدو او دغه راز په سياست او اقتصاد کې د دغه قوم د ځای په نسبي ښه کېدو سره دا بهير يو څه بدل شوی او اوس يو شمېر سيدان ځانونه هزاره بولي. په وروستيو لسيزو کې د هزاره وګړو له دننه هم توکميز تعصبونه خپاره شوي او کله ناکله د هزاره وګړو د سياست او کلتور د مشهورو کسانو له خولې هم د تعصب پيغامونه اوريدل کيږي. د کابل له تنظيمي جګړو وروسته دغه تفرقه په سياست کې نوره هم زياته شوه او د سيدانو پر وړاندې د لوستو هزاره وګړو غبرګونونه پياوړی شول. د اسلامي جمهوريت په دوره کې کله چې هزاره د سياسي او اقتصادي امتيازاتو په توګه تعبيرېدلای شوی، د دغه قوم امتياز غوښتونکو مخکښانو له سيدانو سره د پرديو په څېر چلند وکړ او په هزاره ټولنه کې يې د هغوی د ادغام مخه ونيوله.

لنډه دا چې، د قومونو او کلتورونو توکم پاله ليد لوری هم په خپل منځ کې او هم د يو بل پر وړاندې د نه ختميدونکې تربېنګلتيا لامل کيږي. هغه کسان چې رسنيز ټريبيون يې په واک کې دی بايد له دغو تفرقو او فرصت له منځه وړونکو شخړو نه د تېرېدو په برخه کې مرسته وکړي، څو هزاره ټولنه له سيدانو، قزلباشانو او بياتانو سره له اختلافه خلاصه شي. تاجکان او هزاره وګړي بايد د يو بل د زغملو د وړتيا تمرين وکړی، په متقابل جذب او ادغام کې ستونزه ونه لري او د لوی ګډ کلتوري هويت او په لويه کچه د هيواد د اوسيدونکو د داسې ګډ ملي هويت په جوړولو کې چې د ټولو لپاره د کار او ډيموکراتيک ژوند بنسټ برابر کړي، بريالي شو.

په ظاهره مهمې قومي او کلتوري ترينګلتياوې موږ د ژوند عيني اړتياوو ته له پام کولو راګرځوي. اوس تر بل هر وخته ډيره اړتيا لرو چې د کلتوري او هويتي کرښو پر ايستلو د انرژۍ د مصرفولو پر ځای، پر هغو شيانو تمرکز وکړو چې ډوډۍ، اوبه، ښوونځي، سړکونه، کرنه، صنعت او تر دې مهمه دا چې ازادي راکولای شي.